مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حفیظ الله خوږلن ۲۰۲۱/۱۲/۱۴

# حـــــرام

وایـــي واعظ د ربـاب تـرنـګ، حـــرام دی
مـحتسـب وایـــي د ډُل ډنـــګ، حـــرام دی

نـرِوي سـتنـي د مـــلا د ایــــــمان
لــه دې امـــلـه نـــئ او چنګ، حـرام دی

چـي کــوچــی پیغـله ورته سـرزنګوي
ځــکه د شپون د شپیلی کړنګ،حرام دی

شـیخ وایي بـوی یـې وسوسي پـــاروي
پـه دې دلیل مُـــشک اولونګ، حرام دی

نـکریځو شنه پاڼــه کـې سورعذاب دی
ځکه په سپین لاس داسور رنګ،حرام دی

ویـډې فتني را ویـښـوي پــه زړه کـې
دا د بنـګړیو ځـکه شرنــګ،حرام دی

( متقي ) وایـــي دا رسمـــي کړښـــه ده
د(دیورند) کرښه باندې جنګ،حرام دی

پـه بـهانـو د ښـځو حـــق غـــصبول
اسـلام کې دا چل او نیرنـګ،حرام دی

امیــره پـــوه شه! که ولس وږی وي
ارګ کې ستا خوب هم په پالنګ،حرام دی

یـوحـلال بیت مـي دې غـزل کې نشته
هم یې ردیف،هم یې اهـنـګ،حرام دی

خوږلنه! پام کــوه،سنګـسارډې نکړي
پـه زاهد دا ډول غــورځـنګ،حرام دی

حفیظ الله خوږلن
کاناډا

( متقـــي )- دبهرنیوچارو سرپرست وزیر



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ